# د چاپيريال ساتنې په هکله د عامه پوهاوي پيغامونه











**دبشري قواو د انکشاف اداره (بقا) Enviromental Protection –Public Awarenenss 2015**

دلوی او ستر ښنتن په نامه

## وَ لَا تُفۡسِدُوۡا فِی الۡاَرۡضِ بَعۡدَ اِصۡلَاحِہَا وَادۡعُوۡہُ خَوۡفًا وَّطَمَعًا ؕ اِنَّ رَحۡمَتَ اللّٰہِ قَرِیۡبٌ مِّنَ الۡمُحۡسِنِیۡنَ

## (۵۶)، الاعراف

ترجمه: او هیڅ کله په ځمکه وروسته له هغې چې نظم او اصلاح (د حق په امر او د پیغمبرانو په رسالت) پکښې راغله فساد او تباهی مه کوئ او الله هم بیره او هم امید وبولئ. ځکه چې د الله رحمت نیکانو او نیکي کونکو ته نژدې دی.

قدرمن و وطنوالو خویندو او ورونو ...

د پورته یادسوی مبارکو آیاتو څخه ثابته شوه چې پاک سبحان و تعالی پرخپل بنده ګانو باندې د چاپیریال او ماحولیاتو د صفایی ،د ژغورنې ، دساتنې او د هغو د ودې او انکشاف ورکولو په هکله تاکیدی امر کړی دی...

د بشري قوا او د انکشاف اداره (بقا ) هم د اللہ ج دهمدغه ستر امر او حکم په نظرکې نیولو سره دغه کوچنې د پیغامونومجموعه (کتاب) دلاسي لارښوود په ډول تیار او ستاسې درانه خدمت ته وړاندې کړئ... موږ په دغه مجموعه کې د ژوند د ډیرو مهمو برخو لکه :

- دچاپیریال ساتنې او صفایی په هکله پیغامونه
- داوبو د ښه کارولو او سپما په هکله پیغامونه
- ماحول شیانو ته د پاملرنې په هکله پیغامونه
- د فالتو شیانو د بیا جوړونې او کارونې په اړونده پیغامونه

ساده او ګټمنې خبرې راټول ګړی دی ...هیله او آرزو مو دغه ده چې نه یوازې موږ او تاسې ټول د یاد سوي مسایلو په اړونده خپل سعی وکړو بلکه د راتلونکي ژوند د دوام لپاره خپل اولادونه اونور نسلونه هم په همدا روحیه وروزو ...تر څو دخدای ج او د هغه د ځمکې حق مو به سمه توګه اداکړئ وی... اللہ ج دې موږ ټولو ته توفیق راکړي ....آمین

# د چاپېریال ساتنې په هکله د عامه پوهاوي پیغامونه



د خپل بچیانو راتلونکی ژوند وژغوری ،ونې کښېنوی او د ځنګلونو ساتنه وکړی ځکه ونې د طبیعي ښکلا پیښنو مخنیوئ کوي اوهم د پاکې هوا په تولیدولو او په هوا کې د خطرناک ګاز (کاربن) د کموالي لامل هم ګرځي.





پاک چاپیریال او روغ ژوند را منځته کول زموږ په خپل لاس کې دی. که زموږ هر مشر او کشر د کور او د کوڅې انبار(کثافات) د اوسیدو له سیمې څخه لري وغورځوي او فضله مواد له ښاره لري کوم ځای ته واستول شي نو ژوند به ډیر هوسا او سوکاله شي



د ډیرو زړو موټرانو، موټرسیکلانو، او جنریټرانو استعمال هوا ککړوی ؛ نو هڅه وکړی چی یا دهغوی پر ځای نوی استعمال کړی یا که چیری مناسبه وی د پښو تګ وکړی او یا هم د بایسکلانو څخه کار واخلی.

د طب علم د نوي ښيړنې له مخې په بازارونو کې پلاستيکي کڅوړې خوراکي توکو ته مکروبونه انتقالوي،




نو راځی چې ځان او خپلې کورنۍ ته ؛ له مکروبونو څخه د پاکو خوراکي توکو دراوړلولپاره ساده
(د ټوکرانو څخه جوړشوي کڅوړې) وکارو







د یوه ټن کاغذ د جوړولو لپاره لږ تر لږه ۱۷ ونې له منځه ځي ،نو راځئ هڅه وکړو چې لږ تر لږ کاغذ وکارو تر څو چې د ونو د پریکیدو کچه راټیټه کړو




دګل بوټواو
دونو چپ چاپیر
غوچکې جوړې
کړئ ،ترڅو
اوبه بیځایه
ولاړې نشي

بیشکه چې څښتن تعالیٰ ج حشرات هم د یو خاص مقصد لپاره خلق
کړیدي ؛ نو هڅه وکړئ چې حشره وژونکي دواوې دا ړتیاؤ پرته و نه
کاروئ ځکه ځیني زراعت ته ګټور چینجي هم وژني اود کرهنې
محصولاتو او هوا ته هم تاوان اړوي .



خپل زراعت
کروندې،
ونې او ګلان
مو سهار د
لمر ختو او
مازدیګر
دلمر لویدو
په وخت کې
اوبه کړئ
چې اوبه یې
تبخیر نشی











څښتن تعالیٰ د انسانانو لپاره د اکائینات په بیلابیلو مخلوقاتو او حیواناتو ښکلئ پیدا کړئ دئ. نو موږ باید د دغه مخلوقاتو ،حیواناتو د ځورلو ، په قفس کې د بندولو ، وژلو او ښکارکولو څخه ډډه وکړو تر څو چې هم مو چاپیریال ښکلئ پاته وي او هم د دغو بې ژبو له آزار څخه ځان ساتلی وي

د خپل نږدې چاپېريال د
زرغونتيا لپاره هغه ډول ونې
اويا تخمونه وکرئ کوم چی
لږ اوبه غواړی لکه : لوبيا ،
نخود ، باغلی او داسی نور
حبوبات اويا هم غير مثمرې
ونې کښېنوئ








**اوبه په اسلام کښي زيات ارزښت لري. دالله (ج) د جانبه يوه لويه تحفه ده.**

**چي په عربي ژبه کښي اوبو ته د (ماء) کليمه کاريږي.**

**په قران شريف کښي (63) واره ذکرشويدی (وَجَعَلْنَامِنَ المَّاءِکُلِّ شَئٍ)**

**ترجمه ټوله شيان موږ په اوبو سره ژوندي کړيدي**

ګرانو وطنوالو خويندو او ورونو.... !

الحمد لله چې مسلمانان يو او د خپل رب(ج) حکم ، امر اود قران خبره د زړه له کومې منو. او هم دا را ثابته ده چې د کاينات ټول ژوي له انسانه نيولې تر حيوانه او بيا تر نباته پورې ټوله د اوبو له فيضه ژوند کوی .


نو معلومه سوه چې د اوبو ارزښت حيات دئ. که د اوبو پريماني وي نو ټول موجودات تر ډيره به حيات و لري او هوسا ژوند کولای شی او که چيرې خدای مکړه وچ کالي يعني که اوبه لږ شي او يا نه وي . نو ډيرې خطرناکې ستونزې منځته راولي ..

ځکه نو د( بقا ) د اداری لخوا ،ددغه کتاب پيغامونه په ساده ژبه تاسو ته د اوبو د ښه اوګتمن کارولو لارې در وښيي.... نو را ځئ چې د الله(ج)په امر داوبو په مصرفولو کې احتياط وکړو ، او د زړه له کومې سپما يې وکړو

**Saving Water Sources ----Public Awareness Campaign**


# د اوبو د ښه او ګټمن کارولو په هکله د عامه پوهاوي پيغامونه

د انسان د بدن
(۷۰٪) او د ځمکې
۳ پر ۴مه برخه اوبه
تنظيموي ځکه
نو اوبه يوه ستره
حياتی اړتيا ده.
راځئ چې د اوبو په
کارونه کی ويښ سو
او اسراف ونه کړو.



اوبه د ځمکی پر مخ دژوند لپاره لازمي عنصر دئ، داوبو سپما
د پيسو سمپا ده ، که موږ وغواړو چې اوبه وسپمو ، نو موږ به
دراتلونکي نسل لپاره په کافي اندازه داوبو ذخيره نيولای شو...


کهٔ دموټرانو دپريولو په وخت کښې د پيپ پر ځای له ستل ،لوټه
او ساپې څخه ډېرکار واخلی نو به مو د او بو ډېر سپما کړې وي



که چیرې حتمي اړتیا نه وي نود خپل دفترونو اوکورنو انګړ پهاوبو مه مینځئ په
جارو سره یې پاک کړئ په دې توګه هم د اوبو سپما کولائ شو


په مسجدو کې
داوداسه په
وخت یا په کور
کې دغاښو
مینځلو یا نور
... هر کله چې
اوبه کاروی ،د
اوبو نلکه ایله
مه پریږدئ ،تر
څو ضایع نشي


په حمامو کې دځان پریولو پر وخت د ستل او لوټې پر ځای له شاور څخه کار واخلئ تر څو د اوبو د اسراف څخه مو مخنیوی کړئ وي....



کله چی مو د کورونود اوبو ذخیرېډ کې شي او یا په کوڅه یا بازار کې د اوبو نل خلاص ووینئ نود خپل سپیڅلئ احساس له مخې سم د ستی یې بند کړی.

داوبو دذخيرو نلكوته پام وكړئ كه چيري ذخيرې ډكې او اوبه زياتې شوې
نو اضافي اوبه په خپلو زراعتي ځمكو يا ونو باندې وكاروئ...












داوبو کمښت او نه شتون په ژوند کی څومره ډيرې ستونزې لري ؟!!



که چیرې
اوبه په
دوامداره
توګه دځمکو
دطبیعي لارو
څخه بیرته
لاس ته
راتلای نو بیا
به د اوبو
سپما ته اړتیا
نه وای



په کورنو یا هوټلونو کی دلوښود مینځلو په وخت کښی داوبو نلکه
ایله مه پریږدی اود اوبو له بیځایه مصرف څخه مخنیوی وکړی



له نیکه مرغه زموږ هیواد له دې طبیعی زیرمو څخه په بشپړه توګه برخمند دی خو له بده مرغه د ځو لسیزو کورنیو جګړو او د حکومتي پالیسیو نشتوالی لکبله ونه توانیدو چې د دغو سترو زیرمو د ضایع کیدو مخنیوی وکړو. ځکه نو زموږ د وطن هر وګړي ته لازمه ده چې ځان او چارواکې دې ته اړ کړو چې د دغه ستونزې مخه ونیسي او زموږ داوبو طبیعی زیرمې د خپل هیواد په ګټه وکاروي.

# د ټولنیزو پاملرنو په هکله د عامه پوهاوي پیغامونه

درنو خویندو او ورونو ... !

مورې او تاسې همدا اوس په داسې یو مقطع د زمانې او عصر کې ژوند کوو کوم چې د نړۍ د پرمختګ کاروان په ډیره ګړندۍ توګه پر مخ روان دی ...

که بیا هم وخیړو چې د نړۍ دغه ګړندۍ پر مختګ اصلي لاملونه او بنیادی دلیلونه څه شي دي ؟ نو بیا به را ته جوته شی چې ریښتیا هم (د یوه لاسه ټک نه خیږي )... ټولنیز کار او پاملرنې ته اړتیا ده ...

نړیوال یا دنورو هیوادونو اوسیدونکي خپلو ټولنیزو مهمو او با ارزښتو مسایلو او اړوخونو ته په ګډه پاملرنه ورته کوي او د هر ډول مصیبت او ناخوالو څخه یې ژغوري ....

نو راځئ چې په دغه سیالئ کې وروسته پاته نشو ... او په د غه کتاب کې چې د (بقا ) د اداري لخوا یو څو ګټمن پیغامونه د ټولنیزو پاملرونو او حفاظت په هکله سره را ټول شویدي ، ځانونه او شاوخوا د ټولنې اوسیدونکي ورباندې پوه کړو ...


تر څو د ستر څښتن تعالی په برکت د ټولنیز ژوند پوره بریالیتوبونه را په نصیب شي او ټولنیز هوساینه مو په برخه شي

Environmental Protection _ Public Awareness Campaigns



د ماشومانو په زيږيد نه کې وقفه راوستل نه يوازې د ماشوم دمور ژوند له ګواښ
سره د مخامخ کيدو څخه ژغوري... بلکه د يوه کوچني کورنۍ په درلودلو سره ،
تاسو خپلو ماشومانو ته ښه ښوونه او روزنه هم ورکولائ شئ او په عين وخت کې د
اقتصادي ستونزو څخه هم ځان ژغورلائ شئ...


کم خواړه زموږ دګران پیغمبر حضرت محمد(ص) سنت دئ، اود طب علم هم دا ثابتوي چې کم او په معینه اندازه خواړه د انسانانو دښه روغتیا او اوږد عمر ضمانت کوي نو ( په دې اساس ) هڅه وکړئ چې ښه شئ وخورئ او لږ خواړه وخوری تر څو چې روغ بدن او سالم فکر ولری .



د اسلام سپیڅلئ دین موږ له اسراف کولو څخه منع کوي ... نو په دې امر د عمل کولو لپاره
موږ باید په کورونو او هوټلونو کې تر اړتیا اضافه خواړه تیار نه کړو ، او که سهواً خواړه
اضافه سي نو د ضایع کولو پر ځای یې باید غریبانو ته او یا هم په کوم ټاکل شوي ځای کې
حیواناتو او مرغانو ته واچوو چې هم ثواب وګټو او هم خپل چاپیریال پاک وساتو....



نشه نه يوازې د اسلام سپيڅلي دين حرامه کړې ده بلکه د طب علم هم د نشيې توکو
استعمال د انسان د ژوند لپاره ستر ګوابښ بولي. نشه ستاسو دروحي، جسمي او
جنسي کمزوري سبب ګرځي او په عين وخت کې ستاسو اقتصاد خرابوی او هم
کورنۍ تباه کوی.











عمومي لويې لارې ،پلونه ،
ښوونځي روغتونونه ، ښاري
پارکونه ، د جادو ترڅنګ ونې د برق
خادې او بانک نوټونه... ملي ښتمنی
دي ټولنيز پاملرنه او ساتنه غواړی











په ټولنيز ژوندکې د داسې
ناورين او غميزو ډک ژوندد
راوستلومخه ونيسی

هر انسان د سوکاله
(په امن کې) ژوند
تيرولو حق لري او
دا حق لوی الله
تعالي ج ورکړئ
دی. جګړه له ځان
سره ستر ځاني،
روحي او د
چاپيريال په کچه
کرغيړن زيانونه
راوړي که چيرې هر
انسان خپل او د بل
حق و پيژني نو دا
بدمرغي به تر ډيره
کچه ورکه شي چې
دا يوازې په
پوهاوي او ښه نيت
سره شوني دی.

په کورنيوکې د داسې ناخوالې
اوکرغيړن ژوند د راوستلو مخه
ونيسی،



# د فالتوتو کودبیا کارولوپه هکله دعامه پوهاوي پیغامونه

قدرمنو خویندو او ورونړو ... !

الحمدلله چې ستر خالق(ج) انسان پیدا کړي یو اوالله(ج) په خپل علم سره هر انسان ته شعور ،د فکر کولو توان او په متړو او لاسونو کې زور او طاقت وربخښلئ دی ...

لوئ ښتن تعالی (ج) موږته د کسب او کار کولو د شیانو د جوړولو د بیا ترمیمولو او ښه کارولو ډیر نادر استعدادونه راکړي دي ، چې دا کسب او نوښتي کارونه حتا د خپل نبیانو او پیغامبرانو لکه حضرت داؤد (ع) حضرت ادریس(ع) حضرت صالح(ع) او داسې نورو په ذریعه موږته را ښودل شوئ دئ...

نو راځئ چې خپل دغه خدایي استعدادونه په کار واچوو او د خپل کور ، چاپیریال د فالتو شیانو څخه یو ګټمن کاري شی جوړ کړو ... او ورځنۍ ژوند په هوسا کړو ..

د خپل چاپیرال یا د کور فالتو شیان بیځایه مه غورځوئ ،په انګړ کې دننه په یو مالوم ځائ کې د دوړو او ضایع کیدو څخه یې خوندي کړئ.. بیا هر کله چې مو یو مناسب فرصت درلودئ او یا د کوم ضروري شئ دجوړولو لپاره مو اړتیا احساس کړه ، نو هغه ذخیره شوی شیانو څخه ګټه واخلئ...


د فالتو توکیو دبیاکارولو په هکله د (بقا ) د اداریې له خوا یو څو ګټمن پیغامونه په دغه کتاب کې را ټول شوې دي...

هیله ده چې هم خپله او هم ستاسې دچاپیریال نور اوسیدونکي پوره پوره ګټه ترې واخلئ


Recycling and Creation _ Public Awareness Campaign

هڅه وکړی تر څو د کورنی استعمال شوی شیان یا وسایل د دوهم ځل لپاره بیا هم استعمال کړی لکه د فالتو بوتلانو او فالتو ډبو څخه ګلدانی جوړ ولائ شو ... په دی توګه د چاپیریال څخه نه یوازی بیکاره او فالتو توکي کمیږی بلکه د اسراف څخه هم مخنیوی کیږي او د کورانګړ او ماحول مو هم په ښایسته کیږی...





د توکو د بیا کارولو لپاره ځانګړي ماشینان (ریسائیکل مشین) نه یوازې د توکو په نرخ کې ارزانوالئ راولي بلکه د هیواد بیکارو ځوانانو ته د کار آسانتیا هم برابروي او د چاپیریال د پاکوالي سبب هم ګرځي. نو په دې هکله د هیواد له ملي پانګوالو څخه زموږ دا غوښتنه ده چې په هیواد کې د یاد ماشین لرونکو فابریکې پرانیزي



هڅه وکړئ چې د خپلو کور د مستعملو توکو څخه د کور د ښایست لپاره کار واخلئ، که
چیرې تاسو د کور فالتو او مستعمل شیان د غورځولو پر ځای د کور د ښایست لپاره
وکاروئ نو انګړ او کور ته مو په وړیا یا په ډیر لږ لګښت سره ښکلا او سلیقه راولئ

















فالتو توکي او اضافي شیان د غورځولو پر ځاي په یوه کارټن یا صندخ کې ټول کړی او ویې ساتئ هر
وخت چې مو هنری ذوق او سلیقه وپاریدی نو د پورته شیانو په ډول یوه شي ځیني جوړ کړی



ټولنیزه پاملرنه دځان عادت وګرځوئ



داوبو د ضایع کیدو مخنیوی او سپماوکړئ



چاپیریال ساتنه زده کړی







دفالتو شیانو دبیا کارولو ذوق او سلیقه ستاسی استعدادی پانګه اومالی سپما ده

**لطفا په یاد ولری چی پورته پیغامونه دنورو خلګو سره شریک کړی**

Human Resources Development Agency (HRDA)

د بشري قواوو د انکشاف اداره (بقاء)